# د شمس بونيري پهٔ شاعرۍ کښې د امن پېغام

# The Message of Peace in Shams Buneri's Poetry

Mr. Asadullah Khan[1]

www.asadkhan1112@gmail.com

Dr. Shakeel Ahmad[2]

shakeeluop@gmail.com

## ABSTRACT:

Shams Buneri was a prominent Pashto poet, writer, politician, and advocate, who conveyed a powerful message of peace, love, and humanity amidst his nationalist and revolutionary fervor. As a passionate advocate for freedom and social change, Buneri's verses navigate the complexities of resistance and reconciliation, urging readers toward non-violence and coexistence. Through his poetry, he emphasizes that true strength lies in forgiveness, compassion, and understanding, fostering a culture of peace that transcends religions and boundaries. He promoted peaceful coexistence, mutual respect, and harmony among diverse communities, making his message of peace a beacon of hope in turbulent times. This article introduces peace, explores Shams Buneri's message of peace, and highlights his unique contribution to Pashto literature.

Key words: Shams, Buneri, Poetry, Message of Peace, Love, Dialogue, Non-violence, War, Revolution.

اروابښاد شمس بونېرے چې خپل نوم ئې شمس الحق ؤ، په "12 فروري 1946ء[1]" د عبدالرزاق پهٔ کور غازي خانے کلے، بونېر کښې پيدا شوے ؤ او "پهٔ 1 اګست 2023ء ماسپښين دوه نيمې بجې پهٔ ډګر هسپتال کښې په حق رسېدلے او پهٔ 2 اګست 2023ء د ورځې يوولس بجې ئې پهٔ خپل کلي کښې جنازه شوې وه او خاورو ته سپارلے شوے ؤ."[2] شمس بونېرے شاعر، ليکوال، سياستوال او د پېشې لهٔ مخه وکيل ؤ. هغهٔ د پښتو ادب پهٔ پنګه کښې د اووهٔ شعري او پينځهٔ نثري ټولګو ونډه لري. ياده دې وي چې دې نثري ټولګو کښې ئې ژوند ليک هم شامل دے. تر کومه چې د شمس د شاعرۍ خبره ده نو هغهٔ پهٔ بنيادي توګه قام پرست او انقلابي شاعر ؤ، خو دې سره ئې پهٔ شاعرۍ کښې د مينې او امن پېغام هم شتون لري، کومه چې د دې تحقيقي مقالې موضوع ده. د شمس بونيري پهٔ شاعرۍ کښې د امن د پېغام د لټون نه مخکښې بايد امن وپېژندلے شي.

د امن اصطلاح چې د ليکلو په وخت څومره لنډه ليکلے کيږي او د وئيلو په وخت څومره په آسانه ادا کيږي نو پهٔ حقيقت کښې داسې نهٔ ده، ځکه چې دا يوه پېچلې اصطلاح ده. پېچلې په دې حواله چې په قرينه انحصار لري او دغه شان پهٔ مختلفو وختونو او حالتونو کښې بېلا بېلې معنې او تشريحات لري. يو خوا کهٔ يو شمېر پوهان د جنګ نشتوالي ته امن وائي او دغه شان امن د جنګ ضد بولي نو بل خوا

[1] MPhil Scholar, Department of Pashto, University of Peshawar, Pakistan
[2] Lecturer, Department of Pashto, University of Peshawar, Pakistan

ځینې پوهان د تشدد عدم موجودګي هم امن بولي. د دوي تر څنګ نور نظر لرونکي هم شتون لري. د ورومبۍ ډلې د پوهانو استدلال څۀ دے؟ او دغه شان نورې ډلې څۀ نظر او دلیل لري؟ دا به وروستو د څېړنې د اصولو سره سم څېړلے او وړاندې کولے شي، خو وړومبے پۀ بېلا بېلو لغاتو کښې د امن تورے لټولے شي.

د امن لغوي معنيٰ:

د امن په حقله د پښتو لغت "ظفراللغات" لیکي:

"پناه، حفاظت، اطمینان، آرام، دلجمعي."[3]

"دریاب" د امن پۀ معنو کښې څۀ داسې اضافه کړې ده:

"صلح، حفاظت، اطمینان، آرام، امان، پناه، د جنګ ضد."[4]

د دریاب پۀ معنو کښې د حفاظت او پناه نه علاوه پینځۀ معنې پۀ "تاج اللغات"[5] کښې هم وړاندې شوې دي. د پښتو اکېډمي لغت چې د پښتو لغاتو پۀ لړۍ کښې یوه ځانګړې کړی ده، د امن په اړه لیکي:

"پناه، حفاظت، قلاره قلاري، چې جنګ جګړه نۀ وي، دماغي تسکین، د زړۀ تسلي، ارام."[6]

پۀ پښتو لغاتو کښې د امن لفظ یا اصطلاح د لټون نه پس اوس د اردو ژبې پۀ لغاتو کښې هم د دې لټون کولے شي. پۀ اردو ژبه کښې ډېر لغات لیکلي شوي دي چې یو مستند او مشهور لغت پۀ کښې "نوراللغات" هم دے، کوم چې پۀ څلورو ټوکونو اوډانه لري. یاد لغت کښې د امن په اړه لیکي:

"پناه، حفاظت"[7]

فیروزاللغات چې د اردو لغاتو د سلسلې تسلسل دے، کښې د امن په حقله لیکلي شوي دي:

"چین، اطمینان، سکون و آرام، صلح، آتشی، پناه"[8]

امن چې پۀ انګلش ژبه کښې Peace بللے شي، پۀ اوکسفرډ انګلش اردو ډکشنري کښې ګڼې معنې لري:

"Peace: سکون، سکوت، ذہنی سکون، طمانیت قلب، امن بعد از جنگ، امن بات چیت، متحارب طاقتوں کے درمیان معاہدہ امن، اندرونی خلفشار کا خاتمہ، کلیسا: گرجا کے اجتماعات میں سلام کا طریقہ، امی جمی، امن و امان، کسی ملک یا معاشرے میں، باہم دوست، مطمئن، پُرسکون۔ حسن تعبیر: مردہ۔ hold one's peace چپ رہنا، خاموشی اختیار کرنا۔keep the peace پُرامن رہنا۔ دوستی کرلینا، جھگڑا ختم کرنا۔ make peace باہم مل جانا۔"[9]

دې لغت د نورو لغاتو پرتله د امن ډېر معنې وړاندې کړې دي. د پښتو او اردو لغاتو نه پس، اوس پۀ انګریزي قاموسونو کښې یاد لفظ لټولے شي.

د انګلش ژبې Peace لفظ د ریښې او معنې په اړه اندرسن روئس پۀ خپله څېړنیزه مقاله کښې لیکي:

"The English word peace derives from Latin word pax, which has a somewhat more legalistic meaning. The Oxford Latin Dictionary gives the

first definition of pax as “a pact (to end or avert hostilities), settlement, peace.”[10]

ژباړه: انګریزي لفظ Peace د لاطیني لفظ Pax څخه ماخوذ دے چې یو څۀ ډیر قانوني معنيٰ لري. د اکسفورډ لاطیني قاموس د Pax وړومبے تعریف د "یو تړون (د دښمنی پاے ته رسولو یا د دښمنی د مخنیوي دپاره) د جوړجاړي، امن" په توګه کوي.

"د شارټر اکسفرډ انګلش ډکشنري" د Peace پۀ لړ کښې لیکي:

“Freedom from, or cessation of, war or hostilities; that condition of a nation or community in which it is not at war with another.

Freedom from civil commotion, public order and security.

Freedom from disturbance or perturbation.

Freedom from quarrels or dissension between individuals; concord, amity.

Freedom from mental or spiritual disturbance or conflict arising from passion, sense of guilt etc.

Absence of noise, movement, or activity; stillness, quiet.’’[11]

ژباړه: د جنګ یا دښمنی نه آزادي یا (دا دواړه) پاے ته رسول. د یو قام یا ټولنې هغه حالت چې پۀ کښې د بل سره په جنګ نۀ وي.

د شهري هنګامه آرائي، نظم عامه او د امنیت نه خپلواکی (ته امن وائي).

د اضطراب یا پریشانی نه خلاصون.

د وګړو تر منځ د شخړو یا اختلاف نه آزادي؛ (یعني د اختلاف باوجود) هم اهنګي او دوستي (ساتل).

د ذهني یا روحاني پریشانی یا د جذبې، احساس جرم او داسي نورو څخه رامینځ ته کېدونکو شخړو نه آزادي.

د شور، حرکت یا فعالیت نشتوالے یعني خاموشی ته امن وائي.

دې حواله کښې د امن بشپړه پیژندګلو شوې ده او مختلف اړخونه یا حالتونه ئې پۀ کښې وړاندې شوي دي. پۀ دې کښې څلور بنیادي اړخونه / حالتونه چې پۀ کښې بهرني، داخلي، خپل منځي چې باهمي ورته هم وئیلے شي او چاپیریالي یعني ماحولیاتي امن د یادوني وړ دي.

بي بي سي انګلش ډکشنري د Peace په اړه لیکي:

“Peace is a state of undisturbed quiet and calm.

When there is peace in a country it is not involved in a war.

If there is peace among a group of people, they live or work together in a friendly way and do not quarrel."[12]

ژباړه: امن يو بې خلله خاموش او ارام حالت دے. کله چې پۀ يو هېواد کښې امن وي نو هغه پۀ جنګ کښې ښکېل نۀ وي. کۀ د خلقو د يوې ډلې تر مېنځ امن وي، نو دوي د يو بل سره پۀ دوستانه ډول ژوند يا کار کوي او جنګ نۀ کوي.

کۀ پۀ دې تعريف غور وکړے شي نو دا هم امن د څو اړخيز تصور په توګه تعريفوي چې داخلي ارامتيا، ملکي استحکام او سماجي هم اهنګي پۀ کښې شامل دي. امن د يو خاموش او ارام حالت په توګه تشريحول د انفرادي يا داخلي اړخ ترجماني کوي. دغه شان د هېواد په کچه د جنګ نشتوالے او د نورو هېوادونو پۀ جنګ يا جنګونو کښې د برخې نۀ اخستل د امن معنیٰ لري. او پۀ داسې حال کښې چې د خلقو ډلې د شخړو پرته يو ځاے ژوند او کار کوي، دا د امن په ټولنيز اړخ رڼا اچوي. لنډه دا چې دا لغت يا تعريف پۀ مختلفو شکلونو کښې د امن واضح مفهوم وړاندې کوي.

"نيو ويبسټرز ډکشنري آف د انګلش لېنګويج" د Peace په اړه ليکي:

"A state of quiet or tranquility; calm, or repose; freedom from war or hostility; a cessation of hostilities; absence of strife; tranquility of mind; harmony, serenity, public tranquility and order."[13]

ژباړه: يو حالت چې پۀ کښې خاموشي او ارام، سکون، د جنګ او دښمنۍ نه ازادي، د دښمنيو خاتمه، د شخړو نشتوالے، ذهني سکون، هم اهنګي، ارامتيا، عامه ارامتيا او نظم وي، امن بللے شي.

پۀ دې تعريف کښې د امن د تشريح پۀ لړ کښې مختلف الفاظ وړاندې شوي دي چې ډېر ئې يو شان معنی لري. د مترادف الفاظو دا تکرار هم د امن په اهميت ټينګار کوي.

پۀ بېلا بېلو لغاتو کښې د امن کلمه د لټولو نه پس، اوس د امن اصطلاحي مفهوم څېړلے شي.

د امن اصطلاحي مفهوم:

امن چې د يو لفظ په حېث پۀ ليکلو کښې څومره مختصر او وئيلو کښې څومره آسان دے هومره ئې مفهوم ګران دے. هم دغه شان کۀ ئې تشريح ناممکنه نۀ ده نو مشکله ضرور ده، ځکه چې هر څوک ئې د خپلې پوهې په اساس تعريفوي. دې سره کۀ يو خوا د بېلا بېلو پوهانو نظرونه مخې ته راځي نو بل خوا دا عمل د امن ارزښت او ځانګړنه هم په ډاګه کېږي. د پوهانو د نظرونو پۀ بهير کښې چې کوم د يادونې وړ دي هغه دا دي چې ځينې پوهان د جنګ او تشدد نشتوالے امن بولي او په دې بنياد امن د جنګ ضد ګڼي، خو ځينې نور پوهان بېل نظر هم لري. دلته مونږ د دواړو نظرونه وړاندې کوو او د امن جامع مفهوم ته د رسېدو هڅه کوو.

ډاکټر اقبال شاکر د امن په اړه په خپله څېړنيزه مقاله کښې ليکي:

> "ما چې څومره اورېدلي، ليدلي او لوستلي دي نو امن د جنګ ضد ته وائي. امن سولې ته وائي، امن آشتۍ ته وائي، امن اسودګۍ ته وائي، امن خوشحالۍ ته وائي، امن آرام، سهولت، اسائش، پناه، اطمينان، ارمان، حفاظت، سکون، خير خبريت، سلامتيا، عافيت او ذهني اسودګۍ، فراختيا او برداشت ته وائي."[14]

دا تعریف تشریح کولو ته اړتیا نۀ لري، خو د دې حوالې نه مخکښې چې مونږ د پوهانو د بېلا بېلو نظرونو یادونه کړې وه نو د ښاغلي شاکر د وړومبۍ جملې نه دا معلومېږي چې دوي د هغې ډلې سره تعلق لري څوک چې امن د جنګ ضد بلي.

ډاکټر عطاء الرحمان عطاء د امن په اړه لیکي:

"د جنګ او تشدد نشتوالے د امن شتون دے. دا د ټولنې او د وګړیو د یو بل سره داسې پېوستون دے چې د زړونو د مینې تړون دے. داسې تړون چرته چې لاسونه د یو بل دپاره د مینې او احترام په خاطر په زړونو او سینو وي، نۀ چې د یو بل په مرو او ګرېوانونو وي. دا داسې فضا وه چرته چې د مینې رنګونه بهار بهار خورېږي او د زغم او برداشت وږمې خمار خمار وربږي. داسې داخلي رویه ده چې د زغم، برداشت، احترام، رحم، اعتدال، بخښنې او مینې د خصوصیاتو نه پۀ وجود کښې راځي. داسې ټولنیزه فضا ده چې د هم اهنګۍ او خپل منځي احترام په رنګونو رنګ ده. داسې حالت دے چې د تصادم او هر قسمه تشدد نه پاک دے."15

د نور بحث نه مخکښې یوه یادونه اړینه ګڼم او هغه دا چې دا حواله یا د امن په اړه د ښاغلي عطاء پوره نظر نۀ دے وړاندې شوے، بلکې لړه برخه ئې ده چې اول او آخر جمله ئې دوي د پوهانو پۀ جدا صف کښې ودروي، د هغو پوهانو پۀ صف کښې چې د جنګ او تشدد نشتوالے امن ګڼي. دې نه علاوه دا حواله یا د دې پاتې برخه د امن یو ځانګړے تعریف کوي چې د ښاغلي د ځانګړي نظر ترجماني هم کوي.

د پورته دوو بېلا بېلو نظرونو نه پس دلته د هغو پوهانو یادونه هم اړینه ده څوک چې یوازې د جنګ نشتوالے امن نۀ بولي. هر څو کۀ د دې پوهانو شمېر هم ډېر دے، خو مونږ د نمونې په توګه د څو ذکر کوو. پۀ دې لړ کښې ډاکټر نیاز محمد، ډاکټر محمد حنیف، اظهر حسین، رشاد بخاري او محمد حسین پۀ یو درسي کتاب کښې لیکي:

"عمومی معنی کے اعتبار سے امن محض جنگ کے نہ ہونے کا نام نہیں، بلکہ یہ ایسے ماحول کا نام ہے جس میں کسی فرد یا گروہ کو دوسروں سے تحفظ کا یقین ہو اور کسی قسم کی ضرر رسانی کا اندیشہ نہ ہو۔"16

ژباړه: د عمومي معنې لۀ رویه امن یوازې د جنګ نشتوالے نۀ دے، بلکې یو داسې چاپېریال دے چې پۀ کښې فرد یا ډله د نورو څخه د ساتنې په اړه ډاډه وي او د هیڅ ډول زیان اندېښنه نۀ لري.

دا تعریف د جنګ نشتوالي څخه هاخوا د امن پېچلتیا روښانه کوي او په داسې حالت ټینګار کوي چرته چې یو فرد یا یوه ډله د نورو څخه د ساتنې ډاډمن احساس کوي او د هیڅ قسم زیان ویره نۀ لري، چې پۀ کښې جسماني او جذباتي صحت دواړه شامل دي. مختصر دا چې دې تعریف کښې امن د مثبت حالت په توګه معرفي شوے، کوم چې د افرادو او ډلو تر مېنځ په ثبات (استحکام)، امنیت او باور اډانه لري، نۀ یوازې د جنګ په نشتوالي.

کوم پوهان چې یوازې د جنګ نشتوالے امن نۀ بلي، پۀ هغو کښې اروابناد مولانا وحید الدین خان هم شامل دے. هغۀ پۀ خپل کتاب کښې لیکي:

"Scholars generally define peace as the absence of war. This is a negative definition. The positive definition would be that it is a state in

which there are a great many opportunities. The most important role of peace is that it opens up the door of opportunities, giving each and every individual the chance to avail of these opportunities and reach his or her goal."[17]

ژباړه: پوهان عموماً امن د جنګ د نه شتون په توګه تعریفوي. دا یو منفي تعریف دے. مثبت به دا وي چي یو داسي حالت چي په کښي ډېر فرصتونه (مواقع) شتون لري. د امن تر ټولو مهم کردار دا دے چي د فرصتونو دروازې پرانیځي، هر نارینه او هرې زنانه ته موقع ورکوي چي لهٔ دې موقعو څخه ګټه پورته کړي او خپل هدف ترسره کړي.

د اروابناد دا لیدلورے د امن منفي او مثبت تعریفونو تر منځ فرق په ډاګه کوي. منفي تعریف امن یوازې د جنګ د نشتوالي په توګه وړاندي کوي، په داسي حال کښي چي مثبت تعریف دا د فرصتونو نه د مالامال حالت په طور پیش کوي، چي افرادو ته د خپلو اهدافو د ټاکلو او د هغو د ترسره کولو دپاره بشپړ ظرفیت بخښي. دغه شان امن د جنګ لهٔ نشتوالي هاخوا د افرادو د ودې، پرمختګ او بشپړتیا پهٔ وده کښي اهم کردار ادا کوي.

دا خبره د مخکښي نه روښانه ده چي امن د تعریف لهٔ رویه پیچلے دے، خو دا پیچلتیا هم د دې ځانګړنه ده ځکه چي دا د هر حالت، هرې موقعي او شعبي سره سم او بېل تعریف لري. په دې لړ کښي Janusz Symonides او Kishore Singh پهٔ خپله مشترکه مقاله کښي لیکي:

"The word peace has a variety of meanings in different contexts. In international affairs, it is employed to denote relations between states. Elsewhere, it is associated with internal conditions in a country, in a society, between groups, organizations and social structures or between man and his natural environment. In ethics or morality, the word 'peace' is used to characterize human relationships and attitudes or to determine an individual's frame of mind, often qualified as 'inner peace'. Given its various applications, the term is polysemantic, by its very nature avoiding a univocal definition. In the law of nations, 'peace' denotes the contrary of war, which is most frequently defined as a resort to armed struggle and hostilities. A war is a factual state, an attempt to solve disputes and conflicts and to achieve domination through armed force and violence."[18]

ژباړه: د امن لفظ پهٔ مختلفو شرایطو (سیاق وسباق) کښي مختلفي معنې لري. پهٔ نړیوالو چارو کښي دا د ریاستونو تر منځ د تعلقاتو ظاهرولو دپاره کارولے کیږي. پهٔ بل ځاے کښي دا پهٔ یو هېواد، یوه ټولنه کښي، د ډلو، سازمانونو او ټولنیزو جوړښتونو تر منځ یا د انسان او د هغه د قدرتي چاپېریال تر منځ د اندروني حالاتو سره تړاو لري. پهٔ اخلاقیاتو کښي د امن کلمه د انساني اړیکو او چلندونو د مشخص کولو یا د یو فرد د ذهني چوکاټ ټاکلو دپاره کارول کیږي، چي اکثر د داخلي امن په توګه وړتیا لري. د امن د مختلفو اطلاقاتو پهٔ پام کښي نیولو سره، دا اصطلاح پولیسیټک (ګڼي معنی لرونکي) ده چي د خپل طبیعت (نوعیت) لهٔ مخه د یو تعریف څخه ډډه کوي. د ملتونو پهٔ قانون کښي امن د جنګ برعکس معنيٰ لري، کوم (جنګ) چي اکثر د وسله والي مبارزې او دښمنی د یوې لارې په توګه تعریف کیږي.

جنګ یو واقعیتي (حقیقي) حالت دے چې پۀ کښې د وسله وال ځواک او تشدد لۀ لارې د شخړو د حل کولو او تسلط ترلاسه کولو هڅه کېږي.

دې نقطه نظر کښې نۀ یوازې د امن څو اړخیز مفهوم وړاندې شوے دے بلکې د جنګ پېژندګلو پۀ کښې هم شوې ده.

د دې څېړنې څخه دا نتیجه اخذ کېدې شي چې امن یوه عامه کلمه نۀ ده، بلکې دا یو کثیر جهتي تصور دے چې مفهوم ئې پہ سیاق و سباق پورې اړه لري. امن یو داسې حالت ته وائي چېرې چې نۀ یوازې هیڅ ډول تشدد او جنګ نۀ وي، بلکې سوله، بخښنه، مینه، سلام، احترام، آرام، استحکام، خوشحالي، ترقي، آساني، اسودګي، هم اهنګي، زغم او داسې نور وي او فرد پۀ کښې ځان د نورو نه نۀ یوازې پۀ جسماني توګه بلکې پۀ جذباتي او احساساتي توګه هم خوندي محسوسوي، یعنې د هیڅ ډول زیان اندېښنه نۀ لري او کولے شي چې خپل اهداف وټاکي او د هغې د سر کولو دپاره خپل صلاحیتونه پۀ بشپړه توګه پہ کار راولي.

د امن قسمونه:

امن یو ګڼ اړخیز تصور دے چې د داخلي سکون او شخصي تکمیل نه تر ټولنیزې همغږۍ او نړیوالې همکارۍ پورې د انساني تجربې بېلا بېل اړخونه پۀ کښې شامل دي. د امن پېچلتیا د مختلفو قسمونو پہ سپړلو او څېړلو سره درک کېدے شي، کوم چې هغه مختلفې لارې روښانه کوي چې پۀ انفرادي او ډله ایز ژوند کښې امن نۀ یوازې تجربه کولے شي بلکې د پام وړ ئې ګرځولے شي. دغه شان لاندې د امن ځینې مهم قسمونه د مطالعې پۀ بېلا بېلا برخو کښې پېژندلي او سپړلي شي:

منفي امن:

د منفي امن نه مراد د تشدد او جنګ نشتوالے دے. دا د امن هغه حالت یا شکل دے چې اکثر وختونه د شخړې د ځپلو یا د ټاو تریخوالي د مېنځه وړلو او د جنګ د نشتوالي لۀ لارې ترلاسه کېږي. د امن د دې ډول پہ اړه د څو پوهانو وېناوې مخکښې د امن پۀ لغوي معنیٰ او مفهوم کښې وړاندې شوې دي، دلته به ئې بیا حواله ورکول پۀ تکرار کښې راځي. د دغو پوهانو تر څنګ د یورن هینسن د لیک څۀ برخه یا یوه جمله وړاندې کولې شي:

"Negative peace is the absence of violence in all of these forms."[19]

**ژباړه:** د تشدد د ټولو بڼو نشتوالے منفي امن دے.

مثبت امن:

د امن دا ډول هغه حالت ته اشاره کوي چې د عدالت، مساوات، او متقابل درناوي پہ بنسټ ولاړ وي. د امن دا قسم د نورو پہ پرتله ډېر پائیدار او لچکدار دے.

پہ عمومي توګه مثبت امن بیا نور تقسیمولے شي چې پۀ کښې داخلي، شخصي یا انفرادي، ټولنیز، قامي، نړیوال، کلتوري، چاپېریالي یا ماحولیاتي، اقتصادي، نفسیاتي، روحاني، مذهبي او داسې نور ډېر قسمونه شامل دي. یاده دې وي چې څنګه چې امن د معنې او مفهوم لۀ مخه پېچلے دے، هم دغه شان ئې دا ډولونه پېچلتیا او څو اړخیزه طبیعت پہ ډاګه کوي، او دا چې څنګه دا د ژوند پۀ مختلفو اړخونو کښې تجربه او توجه کېدے شي. خو لکه څنګ چې دا موضوع پېچلې ده نو هم دغه شان ئې یوه نتیجه

مشکله ده. ځکه چې امن په سیاق و سباق پورې تړاو لري نو لهٔ دې کبله دا امکان لري چې یو څهٔ په یو وخت د یو چا یعني فرد، ډلې او ټولنې د پاره سوله ایز وي خو د بل چا دپاره نهٔ وي.

د امن علامتونه:

د امن علامتونه هغه قوي استازيتوبونه دي چې د ارامۍ، همغږۍ، او يووالي احساس څرګندوي. لاندیني علامتونه د نړۍ په بېلا بېلو قامونو، مذهبونو، کلتورونو، تهذيبونو او تمدنونو کښې د امن، تفاهم او پخلاینې د ودې دپاره وخت په وخت کارول شوي دي او کارولي کيږي. لهٔ لرغونو وختونو څخه تر نن ورځې، د امن علامتونو د هيلو د زيږولو، خبرو اترو يعنې مکالمې ته د ودې ورکولو او لهٔ دې لارې د پوهې خورلو کښې ځانګړے کردار ادا کړے دے او اوس هم ادا کوي. دوست محمد بحر په خپله تحقيقي مقاله کښې ليکي:

> "سپين رنګ د امن نښان دے، سپين بيرغ د امن بيرغ دے، سپينه کونتره د امن استاذے دے. سپرلے، ګل، غوټۍ، بلبل، بورا، رنګ و بو د امن د اظهار توکي دي. نمر، رڼا، ورخ او سحر د امن علامتونه دي."[20]

ياده دې وي چې د کوترې سره په مښوکه کښې د زيتون څانګه هم يو ځاے ورانډې کيږي. د زيتون څانګه په لرغوني يونان او روم کښې د ګټونکو تاج او د امن د نخښې دپاره کارولې کېده، خو اوس د کوترې په چونچ کښې په نړيواله سطحه د امن او سکون استازيتوب کوي. دغه شان د بودۍ ټال يا هم دغه رنګ بيرغ په نړۍ کښې امن د علامت په توګه کارولے کيږي. په دې لړ کښې Jay B Joyful په خپل کتاب کښې ليکي:

> "During the 1960 and 1970s, the rainbow gained prominence as a symbol of Peace and unity. It becomes closely associated with various Peace movements, including the anti-war movement and the counterculture of the time. The rainbow flag, in particular, gained popularity as a symbol of peace, love, and inclusivity during this era."[21]

ژباړه: بودۍ ټال د 1960 او 1970ء لسيزو په اوږدو کښې د يووالي د علامت په توګه شهرت تر لاسه کړو. دي د امن د مختلفو غورځنګونو د نزدې تړاو سره سره د جنګ ضد غورځنګ او د وخت د کلتور ضد سره تړون لرلو. په ځانګړې توګه دغه رنګ بيرغ د يادې دورې په جريان کښې د امن، مينې، او د شموليت د علامت په توګه شهرت تر لاسه کړو.

د دې علامتونو سره سره د امن ځينې نور علامتونه هم شتون لري، خو د بېلګې په توګه په دې اکتفا کولے شي.

**د شمس بونيري شاعري او امن:**

اروابناد شمس بونيري کهٔ يو خوا د شعر په ژبه د بدلون دپاره غږ پورته کړے دے نو بل خوا ئې د خپل پښتون قام سره د مينې اظهار هم کړے دے او دغه شان ئې ځان له د انقلابي او قامي شاعرانو په صف کښې ځاے پيدا کړے دے. د هغهٔ ځانګړنه دا ده چې په انقلابي شاعرۍ کښې ئې هم د امن او مينې پيغام موجود دے، يعنې هغهٔ جنګ د څهٔ مادي ګټې دپاره نهٔ بلکې د امن دپاره کول غواړي. دوست شنوارے د شمس بونيري، د هغهٔ د دې انقلابي عمل او شعر په اړه ليکي:

"شمس بونېرے د بونېر د ښکلي وادي يو انقلابي شاعر دے، د پښتنو پهٔ پرګنو کې د بونېر ښکلي خاوره په دې شهرت لري چې سادهٔ زړي کسان د ظالم د ظلم، زوي يا ورارهٔ د نهٔ لرلو د مشکل، د نيستۍ او لوږې د فساد نه د خلاصون په خاطر هلته د نامتو زيارتونو د مرستې د غوښتلو په غرض ورتلهٔ او ورځي، خو نور به د ظالمو استثمارګرو نظامونو، د ټولنيزې بې عدالتۍ، د ملي ستم او نابرابرۍ د جغ نه د خلاصون نسخي د بونيري شمس په انقلابي عمل او انقلابي شعر کې لټوي."[22]

د شمس شاعرې درې غټې برخې لري چې پهٔ کښې غزل، نظم او قطعه شامل دي. مونږ ئې هم پهٔ دې دريوو ذکر شوو شعري اصنافو کښې د امن پيغام لټوو.

**د شمس بونيري غزل کښې د امن پيغام:**

غزل څهٔ ته وائي؟ پښتو کښې د غزل ابتداء چا او کله کړې ده؟ د شمس بونيري غزل د غزل په فني لوازماتو پوره دے؟ د غزل او د پښتو غزل متعلق دا او داسې نورې پوښتنې شتون لري، خو مونږ فکر کوو چې دلته به دا ځوابول بې ځايه وي او د مقالې وجود او د قاري خاطر به دروند کړي.

شمس بونېرے چې د شاعر او ليکوال سره سره قانون پوهه او د پيشې له مخه وکيل هم ؤ. دا اثر ئې پهٔ شعر کښې هم په نظر راځي لکه چې د يو غزل پهٔ مقطع کښې وائي:

"چې د انسان د لاسه ظلم په انسان منع کړي
شمس! زهٔ ټول جهان له دغسې قانون لټوم"[23]

دا کهٔ يو خوا د شمس بونيري د يو غزل مقطع ده نو بل خوا د هغهٔ د پيشه ورانه استعداد هم د ظلم د مخنيوي دپاره په کار راوستلو يوه هڅه ده. او دا هڅه تر يو چا، ټولنې يا هيواد محدوده نهٔ ده، جهاني ده. بله يوه مقطعه کښې وائي:

"شمسه د خيبر نه خونړۍ دنيا ته چغه کړه
سور بيرغ مې لاس کښې دے د امن ثنا خوان يمه"[24]

خيبر پهٔ پښتنه جغرافيه کښې يو ځانګړے مقام دے، ځکه شمس د دې ځاے نه په هغو نړيوالو غړ کول غواړي څوک چې د جنګ اور ته لمنې وهي. دا خبره لکه د لمر روښانه ده چې د امن نخښه سپين بيرغ دے، خو سور بيرغ او د امن ثنا وئيل دا امتزاج هم د شمس بونيري ځانګړنه ده چې د هغهٔ د انقلاب برائے امن دلالت کوي.

د شمس بونېري د يو غزل مطلع هم د امن پيغام لري:

"ځئ چې د تيرو لارو ته شپول شو صبا راولو
ځئ چې د شپو زړهٔ وچوو دلته رڼا راولو"[25]

يا دا چې وائي:

"چې سره ګلونه رېژوي سپېره خزان نهٔ منم
چې ډک فصلونه کړي تالا هغه طوفان نهٔ منم"[26]

او هم د دې غزل په مقطع کښې وائي:

"شمسه، زما سپینه خبره ده په سپین میدان کښې
چې امن نهٔ غواړي هغه هډو انسان نهٔ منم"[27]

د شمس بونیري د دې غزل اکثر شعرونه د امن پیغام لري، خو مطلع او مقطع ئې مونږ د نمونې په توګه وړاندې شو. څوک چې د امن طلبګار نهٔ وي او جنګ غواړي نو هغهٔ ئې یوازې د انسانیت د دائرې نه نهٔ وباسي بلکې د تاریخ مجرمان ئې هم ګڼي لکه چې یو غزل کښې وائي:

"... مجرمان دي د تاریخ خلاصے ئې نشته
په جنګونو کښې کهٔ دا ژوندون تباه کړي
شمسه دغه مې واحد د ژوند ارمان دے
چې د امن بشپړې را ته ګډا کړي"[28]

کهٔ یو خوا ئې امن یواځینے ارمان دے، نو بل خوا د انسان سره محبت، د امن حمایت او د ظالم او ظلم نه نفرت هم کوي:

"زهٔ د انسان سره بې کچه محبت کؤمه
په جار خبره په هر حال د انسانیت کؤمه
کهٔ څوک تپوس را نه کوي کهٔ څوک مې رایې اخلي
زهٔ خو د جنګ په ځاے د امن حمایت کؤمه
خپل احساسات په هیڅ حالت کښې پټولے نهٔ شم
زهٔ د ظالم او ظلم دواړو نه نفرت کؤمه"[29]

شمس بونېرے د تشدد په ځاے د مکالمې طرفدار دے. هغهٔ په جرګه یعنې چرته چې د خبرو اترو د لارې د ستونزو حل لټولے شي او ستونزې حل کولې شي، یقین لري، نهٔ چې په جنګ او زور. لکه چې وائي:

"په جنګ خبرې خلاصې شوې نهٔ دي
دا په جرګه کېږي په زور نهٔ کېږي"[30]

داسې پیغام د یو بل غزل په شعر کښې هم لري:

"کهٔ په خپلو کښې رضا، جرګه، صلاح شو
بیا خو دا زمونږه ټولې شخړې حل دي"[31]

د زمکې په مخ چې څومره قامونه براه راست یا بلواسطه په حالت جنګ کښې پاتې شوي دي، نو په دغو کښې یو قام پښتون هم دے چې شمس بونېرے ئې وګړے دے. دلته څو پوښتنې سر پورته کوي چې دا جنګونه دوي په خپله شروع کړي دي او که نه په دوي تپلي شوي دي؟ د دوي په خاوره جنګ د دوي انتخاب ؤ یا دے که نه نورو د خپل جنګ دپاره د دوي سیمه غوره کړې ده؟ د دې قامونو او ملکونو کومو وګړو په جنګونو کښې برخه د ذاتي او مادي ګټو دپاره اخستې ده او کومو د خپل قام او خاورې د دفاع دپاره؟ دا او داسې یو شمېر نورې پوښتنې شتون لري چې اوږد بحث دے، خو تر کومه چې د شمس بونیري خبره ده نو هغه په خپل یو غزل کښې وائي:

"د قامونو سره خان له ګدون غواړم
د دنیا نقشه کښې کور د پښتون غواړم
دا جنګونه چرته بل طرف ته بوځئ
په دې خاوره کښې د امن ژوندون غواړم"[32]

شمس بونېرے خپل قام د نړۍ د نورو قامونو سره سیال کول غواړي، خو دا سیالي د نفرت په بنیاد نه ده، د مینې او امن ده، ځکه چې د هغه فکر د خپل ځان او خپل قام پورې محدود نه دے:

"په نړۍ کښې د وحدت په تماشه یم
زۀ د دې فکر د دې ارزو خواږۀ یم..."[33]

هر څو که په دې شعر د شاعرانه تعلي رنګ خپور دے، خو په نړۍ کښې د اتحاد او اتفاق پیغام هم لري چې د نړیوال امن استازیتوب کوي.

د شمس بونیري غزل د پورته شعرونو تر څنګ نور هم داسې اشعار لري چې په کښې د امن پیغام شتون لري، خو د بېلګې په توګه دا کافي دي.

د شمس بونیري په نظم کښې د امن پیغام:

لکه څنګ چې مخکښې د غزل په لړ کښې د بحث نه ډېره شوې ده هم هغه طریقه دلته خپلولې شي او یوازې د شمس بونیري په نظم کښې د امن پیغام لټولے شي. هغه په دنیا کښې د داسې جزیرې په لټون کښې ؤ چرته چې د بمونه، جنګي جهازونه، فوځونه، د اسلحو انبارونه، لنډه دا چې جنګي شعارونه نه وي. هغه د زمکې د یوې داسې ټوټې په تلاش کښې ؤ چرته چې هلاکت نه وي، لذت، محبت او مسرت وي. هغه د فرصت دپاره هم غږ پورته کړے دے، خو دلته ئې هم خپله ځانګړنه په ډاګه کړې ده چې یو خوا فرد ته نورو سره د مرستې پیغام ورکړے دے نو بل خوا ئې هغه فرد هم یو ډول غندلے دے چې د نورو په محنت لوبې کوي. د شمس بونیري دا پرامنه خیالي جزیره تاسو د هغه په نظم "د امن خیال" کښې ننداره کولې شئ:

"چرته داسې جزیره به پیدا نه شي
آوازونه د بمونو په کښې نه وي
د جنګي جازونو دا شور و غوغا چې
د فوځیانو لښکرونه په کښې نه وي

کارخانې وي، خو انبار د وسلو نه وي
ورور ولې وي هيڅ خطر د حملو نه وي

دا نيوترون چې هلاکت دے د سوو نو
مزائيل چې تباهي ده د ملکونو
هلته دا وسلې او دا څيزونه نه وي
ښه افراط وي د ژوندون د سامانونو

د ژوندون سندره هر سړي وئيلے
د جنګ نوم هلته هيچا نه پېژندلے

امن، امن، خوشحالي وے، ښه لذت وے
يو د بل سره بې حده محبت وے
دا زما او ستا د وېش خبره نه وے
اعتماد وے هلته ژوند د مسرت وے

يو چې تلے بل ئې د ځان سره بوتللے
يو د بل په محنت لوبې نه کولے

دغه خيال په حقيقت کښې بدليدے شي
دا جنګي سنډا دا ځل راپرزيدے شي
د جنګ اور ته چې لمن وهي په زوره
دا امکان شته چې اوس جنګ په شا کېدے شي

د ځلمو په خولو نړۍ کښې يو شعار دے
د جنګونو لوے دلال د ژوند غدار دے

لږ کوشش خلکه په دې لړ کښې په کار دے
اوس د امن کېمپ پياوړے دے تيار دے
خپل اواز د جنګ په ضد تېزول غواړي
د دوي دور تير شو اوس زمونږه وار دے

بيا به ټوله دنيا داسې جزيره شي
بيا به دا ژوندون او دا دنيا خوږه شي
په هر ساز کښې به د امن ترانه شي
د جنګونو مور به تل دپاره مړه شي"34

د شمس بونيري د خيالي جزيرې نه پس د هغهٔ خيالي نظام هم د کتلو دے چې څومره سوله ايز يا پرامنه دے. په دې لړ کښې ئې د نظم "سور سحر" څهٔ برخه شريکولې شي:

"داسې نظام به وي هغې کښې استحصال به نۀ وي
تن به وي پټ خېټه مړه هغې کښې سوال به نۀ وي
هلته په امن په حيا به د انسان عظمت وي
د عزتونو سوداګر، د تن دلال به نۀ وي
هلته د امن او د صلحې به دستور جوړوو
د رنګ او نسله بالاتر به مونږ منشور جوړوو
هلته کښې امن خوشحالي هلته کښې مينه به وي
هلته کښې پاکه په حيا د انسان وينه به وي"[35]

ياده دې وي چې پورته شعرونه پۀ ياد کلام کښې په دې ترتيب نۀ دي کوم کښې چې مونږ وړاندې کړي دي بلکې دا د ياد نظم نه د موضوع سره سم انتخاب دے.

د شمس بونيري پۀ شاعرئ کښې د امن د پيغام پۀ لړ کښې "مونږ صلح غواړو" او "جنګ نۀ غواړو امن غواړو" نظمونه هم د يادونې وړ دي کوم چې د هغۀ پۀ شعري ټولګه "سرۀ شپېلۍ" کښې چاپ شوي دي.

شمس بونېرے کۀ يو خوا امن غواړي نو بل خوا جنګ هم کول غواړي، خو داسې جنګ کوم چې د امن دپاره وي يعنې د هغۀ د امن د پيغام انداز هم جارحانه دے لکه چې پۀ يو نظم "جنګ" کښې وائي:

"...راځئ چې يو ځلې دا جنګ ورسره وکړو
چې تل امن دلته راولو ايشيا کښې
ځئ چې دا خپسې لرې کړو د ځانه
ځئ چې توره شپه بدله کړو رڼا کښې"[36]

د دې شعرونو نه معلومېږي چې شمس بونېرے جنګ د کټې يا طاقت د حصول دپاره کول نۀ غواړي بلکې د امن دپاره ئې غواړي او امن هم يوازې د خپل ځان او خپلې خاورې دپاره نه، د ټولې ايشياء دپاره. دغه شان دا اشعار د هغۀ پيغام د سرحدونو نه تېروي چې د نړيوال امن خرګ پۀ کښې ځلېږي.

د شمس بونيري پۀ نظم کښې د امن بلها بېلګې شتون لري خودلته په وړاندې شوو څو حوالو بسنه کولې شي.

د شمس بونيري پۀ قطعه کښې د امن پيغام:

څۀ رنګ چې مونږ د غزل او د نظم په حقله د ليکلو نه ډډه کړې ده هم دغه شان د قطعه په اړه څۀ نۀ ليکو، ځکه چې زمونږ موضوع د شمس بونيري د کلام فني جائزه نۀ ده. دلته د شمس پۀ قطعات کښې د امن پيغام لټولے شي.

د زمکې په مخ چې څومره هم د عقل خاوندان دي، هر يو د دوي نه ځان له يو منزل ټاکلے وي او د هغې په لور مزل کوي. څوک پۀ دې سفر کښې کاميابيږي او څوک د ناکامۍ سره مخ کېږي. د شمس بونيري منزل څۀ ؤ او څومره ورسره مخلص ؤ،"څۀ غواړو؟" قطعه ئې ګواهي کوي:

"ترقي او خوشحالي او امن غواړو
وقف کړے مو د دې دپاره ځان دے

غـریـبـي او ظـلـم زور بـه تـریـنـه ورک کـړو
دا ارزو زمـونـږه دیـن زمـونـږ ایـمـان دے"[37]

د ترقی، خوشحالی او امن دپاره خپل ځان وقف کول او د غریبی او ظلم د ورکولو ارزو خپل دین ایمان ګڼل، دې نه بل د امن لوے پیغام څۀ کېدے شي؟ خو دا انقلابي شمس دے چې "سرۀ ګلونه" قطعه کښې وائي:

"دا زمـا د بـدن ویـنـه ورلـه ورکـړئ
دې غـوټـو نـه بـه هـم سـرۀ ګـلـونـه جـوړ شـي
د خـزان سـپـېـرۀ بـادونـه بـه تـر څـو وي
یـوه ورځ بـه د سـپـرلـو وخـتـونـه راشـي"[38]

شمس بونېرے یوازې د خپل ځان، قام او هېواد ترقي او خوشحالي نۀ غواړي بلکې د انسان او ټول جهان دپاره غږ پورته کښې کوي. لکه دا قطعه:

"دا جـهـان د تـرقـۍ پـه لـوري پـرېـږدئ
د بـاردو د لـوګـو نـه مـو نـفـرت دے
د نـړۍ انـسـانـانـو آواز واورئ
چـې د ژونـد سـره ئـې خـومـره مـحـبـت دے"[39]

شمس بونېرے کۀ پورته قطعه کښې د بارودو د لوګو نه نفرت کوي، نو پۀ بله قطعه کښې جنګ د لعنت په توګه هم یادوي او د وینې تویونکو نه د بغاوت اعلان کوي:

"جـنـګ لـعـنـت دے د انـسـان تـبـاه کـول دي
صـلـح وګـورئ چـې ژونـد روښـانـول دي
ځـځ چـې ټـول بـغـاوتـونـه تـریـنـه وکـړو
چـې د چـا هـدف د ویـنـو تـویـول دي"[40]

هغۀ نۀ صرف په خپله د ظالم خلاف او د مظلوم ملګرے دے بلکې پۀ نورو هم د مظلوم د ملګرتیا غږ کوي لکه "ظالم او مظلوم" قطعه کښې وائي:

"د مـظـلـوم سـره مـو کـلـکـه وررولـي ده
د جـابـر سـره مـو تـیـنـګـه دشـمـنـي ده
د ظـالـم او د مـظـلـوم د جـنـګ دوران کښـې
بـې طـرفـه ودرېـدل خـو بـزدلـي ده"[41]

شمس بونېرے مظلومي، تیټي، کمزورې او خوارې طبقې ته په خپله یوه قطعه کښې مخاطب دے:
"دا رنـګـونـه، مـذهـبـونـه دا نسـلـونـه
زمـونـږ مـېـنـځ کښـې دیـوالـونـه دیـوالـونـه
ځـځ چـې دا د نـفـرتـونـو کـور تـبـاه کـړو

تـــول خـــواران يُـــو د يـــو جســـــم انـــدامـــونـــه"[42]

هر څو کۀ پۀ دې قطعه کښې د يوې ځانګړې طبقې يادونه شوې ده، خو يو سوله ايز پيغام پۀ کښې هم شتون لري. دغه پيغام د رنګ، مذهب او نسل نه بالاتر د وحدت او محبت پيغام دے.

د شمس بونيري پۀ قطعو کښې د امن ډېرې نمونې موجودې دي، خو د بېلګې په توګه په وړاندې شوو اکتفا کولے شي.

نتيجه:

اروابناد شمس بونېرے يو قام پرست، انقلابي، انسان دوست، ترقي پسند او امن پسند شاعر ؤ. پۀ دې تحقيقي مقاله کښې د هغۀ د غزل، نظم او قطعو څو بېلګې وړاندې شوې دي چې پۀ کښې د امن پيغام شتون لري. د کلام پۀ ځينو برخو ئې د امن پۀ شاعرئ هم انقلابي رنګ خپور دے، ځکه چې هغۀ نۀ يوازې په خپله د ظالم مخالفت کوې بلکې په نورو انسانانو هم د ظالم مخالفت کولو او د مظلوم حمايت کولو غږ کوي. هغۀ ترقي، خوشحالي او امن يوازې د خپل ځان، خپل قام او خپل هېواد دپاره نۀ، بلکې د نړئ د هر انسان دپاره غواړي هغه کۀ د هر رنګ، نسل، مذهب او هېواد سره تعلق لري. لنډه دا چې شمس بونېرے يو امن پسند شاعر ؤ.

حوالي:

[1] بونېرے، شمس، زۀ څوک یم؟، عابد پرنټرز پېښور، جولائي 2025ء، مخ: 47.
[2] اسد ولي خان، د شمس بونېري ببلوګرافي، میاشتنی "پښتون"، اګست 2025، مخ: 53.
[3] ظفراللغات، سيد بهادر شاه ظفر کاکاخېل، یونیورسټي بک اېجنسي، پېښور، 1981ء، مخ 163.
[4] درياب، قلندر مومند او فريد صحرائي، امېد پرنټرز دربار مارکيټ، لاهور، 1994ء، مخ 63.
[5] تاج اللغات، مشتاق مجروح یوسفزی، تاج کمپني لمیټډ، پېښور، د چاپ کال نۀ لري، مخ 32.
[6] پښتو اکېډمي لغت، فريد صحرائي...، پښتو اکېډمي پېښور پوهنتون، خيبر پښتونخوا، 2018ء، مخ 78.
[7] نوراللغات جلد اوّل، مولوی نورالحسن نیّر کاکوروی، جنرل پبلشنگ ہاؤس، کراچی، سال اشاعت موجود نہیں، ص 406.
[8] فیروزُاللُغات(اردو جامع، نیا اڈیشن)، الحاج مولوی فیروزالدین، فیروز سنز لمیٹڈ، لاہور، سال اشاعت موجود نہیں، ص 122.
[9] اوکسفرڈ انگلش اردو ڈکشنری، مرتب و مترجم: شان الحق حقی، فیروز سنز پرنٹرز (پرائیویٹ) لمیٹڈ، کراچی، دوسری اشاعت 2003ء، 1203-1204 صفحات۔
[10] Anderson Royce, A Definition of peace, Peace and Conflict: Journal of Peace Psychology, Volume 10, 2004-Issue 2, Page 102.
[11] The Shorter Oxford English Dictionary…, William Little, H. W. Fowler, J. Coulson, Volume 2, Clarendon press, London, 1933, P 1453.
[12] BBC English Dictionary, HarperCollins Publishers, P 847.
[13] New Webster's Dictionary of the English Language, Noah Webster, The Delair Publishing Company, Inc., USA, 1986, p 696.
[14] شاکر، محمد اقبال، ډاکټر، په یوویشتمه پېړی کښې د ملاکنډ ډویژن په پښتو شاعری کښې د امن تصور (یوه تحقیقي او تنقیدي جائزه)، د پي ایچ ډي ناچاپه مقاله، پښتو څانګه پېښور پوهنتون، مخ 2.
[15] امن به راځي جانانه، مؤلفین:(ډاکټر ولي رحمان، ډاکټر فیاض علي شاه، ډاکټر شاهد جان کاکاخېل، ډاکټر امجد علي، غني غورځنګ)، اېکسپرټس سنټر فار مارکیټ اېنډ پالیسي ریسرچ (ECMPR)، پاکستان، 2024ء، مخ 11.
[16] تعلیمِ امن اور اسلام، تحقیق و تدوین: (ڈاکٹر نیاز محمد، ڈاکٹر محمد حنیف، اظہر حسین، رشاد بخاری، محمد حسین)، ادارہ امن و تعلیم، اسلام آباد، اشاعت سوئم، ۲۰۱۵ء، ص ۲۴۔
[17] Wahiduddin Khan, Maulana, The Age of Peace, Goodword Books, India, 2015, p 19.
[18] From a culture of violence to a culture of peace, UNESCO Publishing, 1996, p 14.
[19] Toran Hansen, Holistic Peace, Peace Review: A Journal of Social Justice, Volume 28, 2016 – Issue 2: Police Militarization, p 212.
[20] بحر، دوست محمد، 9/11 نه پس د خیبر پښتونخوا پښتو غزل کښې د امن خواهش، د ایم فل ناچاپه مقاله، پښتو څانګه، پښتونخوا مطالعاتي مرکز، باچا خان پوهنتون چارسده، مخ 9.
[21] Jay B Joyful, Peace: Real Power Comes from Love, not Hate, P 356.
[22] بونېرے، شمس، د زندان یادونه، دولتي مطبعه آفسیټ، افغانستان، 1983ء، مخ: ز .
[23] بونېرے، شمس، سور سحر، د چاپ ځاے نۀ لري، 1976ء، مخ: 29.

24 بونېرے، شمس، د ژوند نغمې، د چاپ ځاے نۀ لري، 1980ء، مخ: 99.
25 بونېرے، شمس، د زندان يادونه، دولتي مطبعه آفسيت، افغانستان، 1983ء، مخ: 29.
26 بونېرے، شمس، د صبا سندرې، ضياء آرټ پرېس، پېښور، جنوري 1985ء، مخ: 67.
27 هم دغه حواله.
28 بونېرے، شمس، سرۀ شپېلۍ، ضياء آرټ پرېس، پېښور، 1987ء، مخ: 69.
29 بونېرے، شمس، دغه سجدې مې تا ته وې او کۀ نۀ؟، يونيورسټي بک ايجنسي، پېښور، 2014ء، مخ: 86.
30 هم دغه اثر، مخ: 120.
31 بونېرے، شمس، زما دغه شاعري ده، کتاب کور پېښور، فروري 2022ء، مخ: 69.
32 هم دغه اثر، مخ: 19.
33 هم دغه اثر، مخ: 157.
34 د زندان يادونه، مخونه: 106-108.
35 سور سحر، مخونه: 24-25.
36 هم دغه اثر، مخونه: 63-64.
37 هم دغه اثر، مخ: 162.
38 د زندان يادونه، مخ: 112.
39 سرۀ شپېلۍ، مخ: 41.
40 هم دغه اثر، مخ: 100.
41 هم دغه اثر، مخ:131.
42 د صبا سندرې، مخ: 142.